مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۸** (از ۱۹ الی ۲۶ میزان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۳


## د امنیتي تړون له موادو د امریکا د سرغړونو پیل

- پر ملکي وګړو د وروستیو هوایي بریدونو پیغام ........ ۵
- د پاکستان د توغندیزو بریدونو دوام ........ ٦
- د نوي حکومت دریځ ........ ۷





## فرصت‌ها و مشکلات بر سر راه حکومت وحدت ملی


- صلح و امنیت ........................................................................................ ۸
- مشکلات اقتصادی ................................................................................ ۹
- حکومتداری خوب ............................................................................... ۱۰





# مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د ولسمشر اشرف غني احمدزي په مشرۍ نوي حکومت له جوړېدو او له امریکا سره د امنیتي تړون له لاسلیک وروسته، د هېواد پر ختیزو سیمو د پاکستاني پوځ د توغندیزو بریدونو پر زیاتېدو، د امریکایي ځواکونو په هوایي بریدونو کې د ملکي وګړو پر وژل کېدو او همدا راز د تحلیل په دویمه برخه کې د هېواد په کچه د نوي حکومت پر وړاندې شته فرصتونو او ننګونو په تړاو، د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

* که څه هم له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک ته یو شمېر افغانان هیله من وو، چې دا تړون به په افغانستان کې د ګاونډیو هېوادونو د لاسوهنې د مخنیوي لامل شي؛ خو د تړون له لاسلیک څخه، د کابو دریو اوونیو له تېرېدو وروسته د ملي شورا یو شمېر غړي او عام افغانان د تړون له موادو د امریکایي لوري سرغړونې جدي اندېښمن کړي دي. د پاکستان د توغندیزو بریدونو او د امریکایي ځواکونو له خوا په ځینې سیمو کې د ملکي وګړو د وژل کېدو له پېښو وروسته، د نوي حکومت د غبرګون له نشتوالي داسې برېښي، چې په راتلونکي کې به له امنیتي تړون څخه د امریکا سرغړونې په همدې ډول دوام ولري او افغان حکومت به یې په اړه کمزوری دریځ ولري. خو وروستۍ پېښې څه لاملونه او پیغامونه له ځان سره لري او په اړه یې راتلونکې اندېښنې څه دي؟

* همدا راز د افغان حکومت پر وړاندې له شته ستونزو سره د حکومت چلند او له فرصتونو سمه ګټه اخېستنه هغه موضوع ده، چې ډېری افغانان ورته سترګې په لار دي. خو د سولې او امنیت په څېر د هېواد د بنسټیزو مسائلو په اړه لاهم پخوانۍ اندېښنې پر ځای پاتې دي او لاهم څرګنده نه ده، چې حکومت د دا راز ننګونو پر وړاندې څه اقدام کوي؟ لاندې پر همدغو موضوعاتو د شننو تفصیل لولئ:

# د امنيتي تړون له موادو د امريکا د سرغړونو پيل



پخواني ولسمشر حامد کرزي د امنيتي تړون د لاسليک کولو لپاره يو شرط دا ايښی و، چې پر ملکي افغانانو به د بهرنيو ځواکونو عمليات سملاسي بنديږي. خو کله چې دا تړون د اشرف غني احمدزي په مشرۍ نوي حکومت له خوا، په ټولې بيړې سره لاسليک شو او د پخواني ولسمشر د شرطونو ترڅنګ، د مشورتي لويې جرګې سپارښتنې او شرطونه هم په پام کې ونه نيول شول، هغه افغانان يې هم نهيلي کړل، چې دغه تړون ته هيله من وو.

له امريکا او ناټو سره د امنيتي تړونونو له لاسليک يوازې څو ورځې وروسته، د پکيتا ولايت په مرکز ګرديز کې، له سيمه ييزو چارواکو سره له همغږۍ پرته، د امريکايي ځواکونو په هوايي بريد کې د يوه ماشوم په ګډون 9 تنه عام ولسي وګړي ووژل شول، چې ځايي اوسېدونکي او چارواکي وژل شوي کسان په يوه خوله ملکي وګړي بولي. د سيمې خلکو د وژل شوو کسانو مړي د احتجاج په ډول د پکتيا ولايت مقام مخې ته راوړل او له افغان حکومت څخه يې په دې اړه د سپيناوي غوښتنه وکړه. په بله پېښه کې هم د لغمان ولايت په عليشنګ ولسوالی کې د امريکايي بې پيلوټه الوتکې په بريد کې 4 تنه، چې په سيمه کې يې د يوه پله پر جوړولو کار کاوه، ووژل شول او په ننګرهار کې هم يو عام وګړی په ورته بريد کې ووژل شو.

خو د حيرانتيا ځای دا دی، چې په همدې ورځو کې په سرپل ولايت کې افغان ځواکونو ته له درنې مرګ ژوبلې اوښتلو او له بهرنيو ځواکونو د هوايي مرستې له غوښتلو سره سره هم، بهرنيو ځواکونو له هغوی سره مرسته ونه کړه چې په پايله کې يې 22 تنه افغان سرتېري ووژل شول، 17 تنه ټپيان او 6 نور هم وسله والو طالبانو ژوندي له ځان سره يوړل.

## پر ملکي وګړو د وروستيو هوايي بريدونو پيغام

امريکايي ځواکونه دارنګه بريدونه د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د يوې وسيلې په توګه کاروي او دا موضوع هومره هم ساده نه ده، چې يا خو تېروتنه وبلل شي او يا هم وژل شوي ملکي افغانان، وسله وال مخالفين وبلل شي.

هر کله چې بې ګناه ولسي وګړو ته په بمباريو کې مرګ ژوبله اوښتي، يوازې په غندلو او په تېروتنه بللو يې اکتفا شوې؛ حتا ډېرى وختونه له دارنګه جناياتو وروسته تشه ښښنه هم نه ده غوښتل شوې او وژل شوي کسان وسله وال مخالفين بلل شوي. د دې ترڅنګ بهرنيو ځواکونو ډېرى وختونه پر افغان ځواکونو هم دارنګه بريدونه او بمبارۍ کړې او د معمول په څېر يې تېروتنه بللې، چې تېروتنه بلل يې پر وژنې سربېره يو ستر توهين هم دى.

کله چې په جګړه کې ولسي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، نو لامل يې مشخص وي؛ خو د استوګنې پر سيمو او ملکي وګړو له کوم مشخص لامل پرته بمبارۍ او بريدونه بيا نور پيغامونه له ځان سره لري.

امريکايي ځواکونو له دغو وروستيو بريدونو سره، چې يوازې څو ورځې د نوي حکومت له جوړېدو او له امريکا سره د امنيتي تړون له لاسليک تېرېږي، نوي حکومت ته دا پيغام ورساوه چې دارنګه تړونونه د دوى خپلسرۍ نه شي محدودولى او هرڅه چې وغواړي کولى يې شي.

د افغانستان په جګړه کې د ښکېلو بهرنيو لورو له درېځونو داسې ښکاري، چې د تېرو 13 کلونو په څېر به، چې د بهرنيو ځواکونو په هر قصدي بريد کې لسګونه او سلګونه بې ګناه ملکي وګړي وژل کېدل، په راتلونکي کې به هم د بهرنيو ځواکونو له خوا د ملکي وګړو مرګ ژوبله، ترکومه چې دغه ځواکونه په افغانستان کې مېشت وي، دوام کوي.

په تېرو 13 کلونو کې د بهرنيو ځواکونو له خوا پر عامو افغانانو د بمباريو او ډله ييزو وژنو چاره عادي شوې، چې ډېرى شنونکي د بهرنيو ځواکونو له خوا دا بريدونه او وژنې قصدي بولي او موخه يې د افغان حکومت او افغان ولس ترمنځ د واټن زياتول بولي. که څه هم د نوي حکومت له خوا د اصلاحاتو د راوستو تمې راټوکېدلې دي؛ خو که په راتلونکو کلونو کې هم دا ړندې بمبارۍ او بريدونه دوام وکړي، ورو ورو به افغانان په پراخه کچه د دولت پر ضد راوپارېږي؛ ځکه په تېرو کلونو کې هم د بهرنيو ځواکونو ورته جناياتو د دولت د وسله والو مخالفينو ليکې پياوړې کړې وې.

خو په ټوليز ډول افغانان هم په تېرو 13 کلونو کې او هم به په راتلونکي کې د داسې لوبې قرباني وي، چې بهرنيو استخباراتي کړيو د خپلو سياسي موخو ترلاسه کولو لپاره روانه کړې او د غربي رسنيو او په هېواد کې دننه په دوى پورې اړوندو رسنيو او کړيو له لارې يې، په اړه سرچپه تبليغات کوي.

په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو کړنو او دريځونو ته په کتو سره، امريکا او ناټو په افغانستان کې ارامي نه غواړي بلکې د جګړې د بنې بدلون غواړي. دغه ځواکونه به په راتلونکو کلونو کې په خپلو اډو کې مېشت وي؛ خو افغانان به د دوی له دغو هدفي بريدونو کله هم خوندي نه شي او وخت ناوخت به د خپلو اهدافو د پلي کولو لپاره له دې وسيلې کار اخلي.

## د پاکستان د توغنديزو بريدونو دوام

افغانان که له يوې خوا په ماين چاودنو، نورو بېلابېلو بريدونو او د بهرنيو ځواکونو په قصدي بمباريو کې وژل کېږي، له بلې خوا له تېرو څو کلونو راهيسې د پاکستان له لوري د توغنديزو بريدونو ښکار هم دي او په کونړ او نورستان ولايتونو کې يې درانه مالي او ځاني زيانونه اړولي دي.

پخواني حکومت د دغو بريدونو په غندلو اکتفا وکړه؛ خو له نوي حکومت څخه او له امريکا سره د امنيتي تړون له لاسليک وروسته، د ځينې افغانانو دا تمه وه چې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا د ساتنې او بهرنې تجاوز پر وړاندې به ګام پورته کړي.

د مشرانو جرګې ځينې غړو د امنيتي تړون له لاسليک وروسته پر افغان خاوره د پاکستاني پوځ د سلګونو توغنديو له توغولو وروسته، په دغه تړون کې د امريکا له لوري د ورکړل شوو ژمنو د نه عملي کولو په اړه جدي اندېښنه وښوده او دا تړون يې د هېواد د امنيتي وضعيت د لاخرابۍ لامل وباله. د دوی په وينا، که دا تړون په افغانستان کې امنيت تأمين نه شي کړای، نو بيا افغان ولس ته څه ګټه رسوي؟

ځينې افغانان د امنيتي تړون له لاسليک سره د ګاونډيو هېوادونو د لاسوهنو او پوځي يرغلونو د مخنيوي په هدف موافق وو؛ خو د امنيتي تړون له لاسليک سره هم مهاله د هېواد پر ختيزو سيمو د پاکستاني پوځ توغنديز بريدونو لازور واخېست او يوازې په يوه ورځ کې 75 توغندي د کونړ ولايت پر بېلابېلو سيمو وتوغول شول، ايا دا توغنديز بريدونه بهرنی يرغل نه دی؟

اصلاً امريکا او ناټو په افغانستان کې د امنيت د ټينګښت اراده نه لري او دا چې د افغانستان پر خاوره د پاکستان پر ښکاره بريدونو سترګې پټوي او حتی د پاکستان ننګه هم کوي، د دې ښکارندويي کوي چې پاکستان او امريکا په افغانستان کې د بحران د اوږدولو او ژورولو په اړه، يوه خوله دي.

له بلې خوا امريکا په سيمه کې د پاکستان په څېر خپلو ستراتېژيکو ملګرو په مرسته، د ترهګرۍ په نوم روانې کړې لوبې سره غواړي، چې په سيمه کې خپل استعماري پلانونه تضمين کړي او افغانان د خپلو غوښتنو منلو ته اړباسي. د دوی هدف، د زور له لارې د نوي او مډرن ښکېلاک، چې په نوو لارو چارو پلی کېږي، په سيمه کې تطبيقول دي.

## د نوي حکومت دریځ

دا چې ولسمشر اشرف غني د لوړې له مراسمو سملاسي وروسته په جدیت سره په ځینې اصلاحاتو پیل وکړ او له امریکا سره امنیتي تړون هم لاسلیک شو، له افغانانو سره دا تمه راپیدا شوه چې نوی حکومت به له بهرنیو ځواکونو سره هم د ځینې مهمو موضوعاتو په اړه روښانه دریځ خپل کړي. مګر دا چې د پاکستان د توغندیزو بریدونو د زیاتېدو او د امریکایي ځواکونو له لوري د ملکي وګړو د وژنې پر پېښو، چې سیمه ییزو افغان چارواکو هم وژل شوي کسان ملکي وګړي وبلل او دا یې هم په ډاګه کړه، چې د پېښې په سیمه کې کوم وسله وال خوځښت هم نه و ترسترګو شوی، بیا هم ولسمشر څه غبرګون ونه ښود، داسې ښکاري چې نوی حکومت به په دې اړه تر پخواني حکومت لاډېر کمزوری دریځ ولري.

د شنونکو په اند، دا چې په امنیتي تړون کې د ګاونډیو هېوادونو د لاسوهنو او بهرني تېري په اړه د امریکایي لوري ژمنې الزامي نه دي او همدا راز د دغه تړون د دویمې مادې له مخې هغوی ته د پوځي عملیاتو د دوام اجازه هم ورکړل شوې او په دې اړه افغان لوری پر امریکا فشار نه شي راوړلی، نو ځکه به ښایي افغان حکومت دا توان ونه لري، چې پر امریکایي لوري خپله خبره ومني چې له همدې امله چوپه خوله هم دي.

اوس باید له هغه چا، چې دا تړون یې لاسلیک کړ او له هغو کسانو چې د ګاونډیو هېوادونو د بریدونو د مخنیوي لپاره یې امنیتي تړون توجیه کاوه، وپوښتل شي چې ولې دغه تړون افغان ولس د پاکستان له توغندیزو بریدونو نه شي خوندي کولی؟ او امریکا ولې ددغه تړون له مخې د پاکستان د راکټي بریدونو پر وړاندې غبرګون نه ښیي؟ مګر دا څرګنده ده، چې امریکا هېڅکله هم د افغانستان له خلکو د دفاع اراده نه لري او نه یې هم په دې کې خپله ګټه ویني. امریکا امنیتي تړون یوازې د خپلو ګټود خوندي کولو لپاره لاسلیک کړ او د تړون پر هغو برخو به عمل کوي، چې د امریکا ګټې په کې خوندي شي.

افغان حکومت که په دې اړه له امریکا څه غوښتنه هم وکړي، امریکا یې نه مني او د پاکستان پر وړاندې غبرګون نه ښیي؛ خو افغانستان له دې امله چې امریکا د تړون له موادو سرغړونه کوي، د تړون د متن له مخې هېڅ کومې ملي او نړیوالي محکمې، درېیمګړي لوري او کومې نړیوالې ادارې ته شکایت نه شي کولی او نه هم دا تړون لغوه کولی شي؛ ځکه په هغه صورت کې به هم دوه کاله مخکې بل لوري ته خبر ورکول کېږي. په دې توګه به افغان حکومت نه پر امریکا خپله خبره ومنلی شي او نه به هم د ګاونډیانو له لاسوهنو او بریدونو خوندي شي.

## فرصت‌ها و مشکلات بر سر راه حکومت وحدت ملی



داکتر اشرف غنی احمدزی رئیس جمهور کشور، در مراسم تحلیف خویش سخنرانی امیدوار کننده‌ای به ملت داشت و برنامۀ سازنده‌ای را در همه بخش‌ها به صورت خلاصه تقدیم نمود. صدای رئیس جمهور، به عزم قوی او برای بازسازی همه‌جانبه و همه‌گیر مشکلات کشور دلالت می‌کرد. در اینجا با چند مشکل اساسی برمی‌ایستیم که حکومت جدید آنرا باید در اولیت‌های خویش قرار دهد که منحیث کل می‌توان از آن به عنوان فرصت‌ها یاد کرد، و نیز منحیث مشکلاتی آنرا شناخت که بر سر راه رئیس جمهور قرار دارند:

### صلح و امنیت

افغان‌ها امروز بیش از هر چیز دیگر به صلح و امنیت نیاز دارند، بیشتر از ۹۵ درصد از زیان‌های جنگ در افغانستان به افغان‌ها متوجه بوده و همه‌روزه خانواده‌های افغانی بی‌سرپست می‌شوند، معیوب می‌شوند، و آسیب‌های دیگری می‌بینند. اگر طالب کشته می‌شود هم فامیل افغانی آسیب می‌بیند و اگر کسی از اردو و پولیس کشته می‌شود هم فامیل افغانی آسیب می‌بینند؛ در وجود جنگ نمی‌توان فعالیت‌های بازسازی را انجام داد، اگر از یک‌سو بازسازی صورت گیرد، از سوی دیگر ویرانی به میان می‌آید؛ در وجود جنگ نمی‌توان شایسته‌سالاری را احترام گذاشت بلکه نیازهای جنگی باعث گسترش فساد خواهد گردید؛ وجود جنگ مصارف مالی را بالا می‌برد که در صورت عدم موجودیت آن، این مبالغ را می‌توان در فعالیت‌های بازسازی به مصرف رسانید.

صلح و امنیت در پیام رئیس جمهور منعکس گردید، اما بدون اینکه نشانه‌ها و توجه آن معلوم شود، حکومت سابقۀ حامد کرزی نیز از صلح صحبت می‌نمود و بخاطر صلح شورای عالی صلح را ایجاد نمود؛ اما شورای عالی صلح در راستای ختم جنگ موفقیتی نداشت، باآنکه هزینۀ گزافی که در این مورد به خرچ رسانید. علت عدم موفقیت شورای عالی صلح این بوده

که نتوانست منحیث یک جناح بی‌طرف در قضیه معامله کند، بلکه موقف حکومت را منعکس می‌کرد؛ و علت دومی اینکه آن‌ها بجای آنکه با قیادت طالبان رابطه نمایند و مشکلات را به صورت اساسی بین خود حل نمایند، به ترغیب افراد طالبان دست زدند تا در مقابل امتیازات مادی سلاح را به زمین گذارند. موارد زیادی وجود داشته که یک فرد چندین بار سلاح خود را به خاطر امتیازات مادی به زمین گذاشته است که این طرز عمل خشم طالبان را در برابر شورای عالی صلح بلند نمود و در نتیجه به جان باختن پروفیسور برهان الدین ربانی انجامید. دفتر قطر نیز به هدف گفتگو با طالبان گشایش یافت، اما هیچ پیشرفتی در مورد صلح صورت نگرفت، بلکه یک استفاده تبلیغاتی از آن صورت گرفت. حکومت در سیاست‌های خویش بر استراتژی جنگ در حرکت بود و عملیات شدید نظامی را علیه طالبان به راه انداخته بود و طالبان نیز عملیات انفجاری را در نقاط مختلف کشور به راه انداختند که سبب تلفات زیادی به مردم افغانستان شد.

بسیار مهم است فهمیده شود که رئیس جمهور جدید کشور با قضیه جنگ و صلح چه نوع برخورد می‌کند، آیا تلاش می‌کند برای به میان آمدن یک جهت بی‌طرف و میانجی زمینه‌سازی کند تا بتواند نظریات جهت‌های مختلف درگیر را نزدیک ساخته و در نتیجهٔ آن یک میثاق ملی مورد اتفاق بمیان آید، جنگ خاتمه یابد و حکومت وحدت ملی به معنای حقیقی آن که همه جناح‌های افغانی در آن شرکت داشته باشند، بمیان آید؟ و یا تجربهٔ ناکام گذشته را دوباره تکرار می‌کند که از یک طرف بر جنگ و کشتار تکیه نماید و از طرف دیگر افراد طالبان را توسط امتیازات مادی جذب نموده و آن‌ها را وادار به ترک جنگ کند؟

راه‌کار اخیر عدم مؤثریت خویش را ثابت ساخته است، اما راه‌کار اول شاید مؤثر باشد. اگر افراد دانا و دلسوز در آن جمع شوند و در طریقهٔ کار آن‌ها تجدیدنظر شود، تنها به تغییر و تبدیل افراد و مهره‌ها اکتفاء نشود، بلکه افرادی در آن گردهم بیایند که همه جهت‌های درگیر، به آن‌ها به دیدهٔ احترام نگریسته و بتواند به همه اطراف درگیر رسیدگی نمایند، نظریات آن‌ها را باهم نزدیک سازند، به صورت دوامدار و بدون خستگی در حل مشکلات بر سر راه کوشا باشند، اقشار مختلف جامعه را دور خویش بسیج نموده و یک محور مؤثر صلح را به میان آورند.

## مشکلات اقتصادی

افغانستان کشوری است که به تهیهٔ بودجهٔ عادی سالانهٔ خویش که تقریبا به پنج ملیارد دالر بالغ می‌گردد، از طریق عائدات داخلی خود قادر نیست. بی‌کاری در کشور کاملا اوج گرفته و تقریبا هشتاد درصد از کارمندان وکارکنان مزد کافی که نیازهای اساسی زندگی شان را برآورده سازد، نمی‌گیرند. میزان بین واردات و صادرات در افغانستان کاملا برهم خورده و افغانستان بیش از ۸۰ درصد از ضرورت‌های خویش را از خارج وارد می‌کند. ملل متحد تقریبا به سه میلیون افغان مواد غذایی توزیع می‌کند؛ صنعت در افغانستان کاملا متوقف شده و تا حال نیز به صورت بسیار اندک رشد نموده است؛ سالانه تا

حدود پنجاه هزار محصل از پوهنتون‌ها فارغ می‌شوند اما زمینه‌های کاری مناسب برای آن‌ها وجود ندارند؛ در سراسر کشور افرادی زیادی رسیدگی به خدمات صحی را ندارند و عده‌ای زیادی به همین دلیل زندگی خود را از دست می‌دهند؛ آب آشامیدنی پاک برای عده‌ای زیادی از هموطنان ما مهیا نبوده که سبب انتشار امراض در بین مردم می‌گردد؛ استعمال مواد منفجرهٔ کیمیایی نیز سبب انتشار امراض گوناگون شده و میزان گرفتاری به مرض سرطان در افغانستان کاملا بلند رفته است. دولت نتوانسته تا موارد وعایدات خویش را انکشاف دهد، معادن افغانستان بصورت غیر مسؤولانه در اکثر موارد دستخوش چور و چپاول می‌گردد و بیشتر عایدات کشور به خزانهٔ دولت نمی‌رود.

ملتی که نتواند نان خویش، خودش پیدا کند نمی‌تواند در بین ملت‌ها زندگی آبروند و مستقلانه داشته باشد، افغان‌ها اگر بخواهند از ملتهای محترم جهان باشند، باید از لحاظ اقتصادی به پای خویش بایستند. مردم افغانستان به حکومت وحدت ملی امیدوار هستند که به مشکلات اقتصادی کشور رسیدگی جدی نماید.

## حکومتداری خوب

افغانستان از ناحیهٔ فساد در ادارات دولتی خیلی متضرر گردیده است؛ کمک‌های که در طول ۱۳ سال گذشته از سوی جامعهٔ جهانی صورت گرفته، همه حیف و میل سوء تصرف کارکنان دولتی و کمک کنندگان بین المللی گردید. این همه مبالغ بدون موجودیت یک پلان جامع برای ضرورت‌های کشور، بنا به میل و خواهش خارجی‌ها به مصرف رسیدند که در بخش‌های مختلف، مافیا و گروپ‌های استفاده‌جو را به میان آوردند. وجود تشکیلات موازی با دولت توسط خارجی‌ها، حکومت مرکزی را تضعیف نمود و از به میان آمدن ظرفیت‌های مناسب کاری در چوکات دولت عاجز گردید.

مردم افغانستان حالا انتظار دارند که آیا داکتر اشرف غنی خواهد توانست باوجود مشکلات فراوان بر سر راه شایسته‌سالاری و حکومتداری خوب، گام‌های موفق وجرأتمندانه بردارد و آیا خواهد توانست گروپ‌های مافیایی که از خون مردم تغذیه می‌شوند برهم زده و قانون را حاکم نماید و آیا خواهد توانست وظایف کلیدی و پالیسی ساز را به افراد شایسته بسپارد؟ پایان

با تشکر از هفته‌نامهٔ اصلاح ملی

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)